# "پښتونخوا اسمبلۍ کښې"

## د اميرحېدر خان هوتي تقرير

اداره

په ۱۰ اپرېل د اعتماد د ووټ نه پس د پښتونخوا وزيراعلي اميرحېدر خان هوتي چې صوبائي اسمبلۍ ته د خپلې پاليسۍ په حواله کوم تقرير وکړو، مونږ دلته د پښتون د لوستونکو دپاره د هغه تقرير مکمل متن وړاندې کوو.

دازما دپاره د ډېر عزت او فخر خبره ده چې د تاريخ په دې اهم موړ ماته دې معزز ايوان ته د خطاب کولو موقعه په لاس راغله. د ټولو نه اول خو زۀ ستاسو د ټولو ډېره مننه کووم چې په ما مو د اعتماد اظهار وکړو، د دې دپاره زۀ د دې ايوان د هر معزز رکن په ذاتي توګه شکريه ادا کوم.



په دې ډېره اهمه تاريخي مرحله دې معزز ايوان ته خطاب کول زما دپاره واقعي د عزت او وياړ خبره ده. د خپل حکومت د وړومبنو سلو ورځو پروګرام ټولو ته د وړاندې کولو نه اول زۀ يو ځل بيا د دې ايوان د ټولو قدرمنو غړو مننه کوم چې په ما مو د اعتماد اظهار وکړو.

زمونږ په صفونو کښې چې کوم عظيم الشان اتحاد دے دا د دې ايوان د قائد او د صوبې د منتخب چيف ايګزيکټيو په حېث ماته ډېر لوئے طاقت راکوي. ستاسو اعتماد کولو چې زما په اوږو کومه ذمه واري اچولې ده، د هغې ما ته پوره احساس دے کۀ په څۀ لحاظ هم وکتے شي نو دا انسان ته د خپل استعداد د حد د اګاهي ورکولو يوه تجربه ده.

ستاسو ملګرتيا او د دې ايوان نه علاوه زمونږ د صوبې د اولس د مسلسلې مرستې په وجه په کابينه کښې شامل زما ټيم او زۀ به د هغه ټولو مسئلو د حل کولو کوشش کوو چې زمونږ د صوبې دپاره بنيادي اهميت لري.

دلته به زۀ د خپل حکومت د وړومبنو سلو ورځو د ترجيحاتو تذکره کووم او د اوږدې مودې په څنو مقاصدو به رڼا اچوم.

زما ګرانو ملګرو!

زمونږ مخلوط حکومت په يو داسې دور کښې په اقتدار کښې راغلے دے چې د دې سيمې خلق د يوې تشدد خبزې هنګامې سره مخ دي. دا خبره زمونږ دپاره د ډېر تکليف باعث ده چې دا وخت نوره ټوله دنيا د ترقۍ او پرمختګ اعلي ترينو درجو پلو روانه ده نو زمونږ صوبه او فاټا په يو داسې وسله وال جنګ کښې

اخته دي کوم چې په مونږ د بهر نه راتپلے شوے دے. د قتل او مرګ ژوبلې سره مینه لرونکي تورو قوتونو زمونږ دا ښائسته خاوره او زمونږ معصوم او بې ګناه خلق تباه برباد کړل.

زۀ غواړم چې دنیا ته معلومه شي چې د پښتنو دا خاوره صرف د لېونتوب او جنونیت سره مخصوصه نۀ ده!! دا د ګندهارا د عظیم الشان تهذیب خاوره ده! د منځینې ایشیا د ځلانده اسلامي احیائے علومو خاوره ده. دا د پیرروښان او باچاخان وطن دے، دا د خوشحال خان خټک او رحمان بابا وطن دے!! دا هغه خاوره ده چرته چې امن او وروروليٰ وده موندلې ده، د اوسنو انتخاباتو نتائجو دنیا ته دا خبره ښکاره کړه چې زمونږ اولس د دنیا نه جدا د یوې ځانله معاشرې مرسته نۀ کوي چې د دوي نا اشنائي نۀ ده پکار، بلکې کۀ دوي په ګرداب کښې هم ګېر دي خو د نورې دنیا سره د وړاندې تلو او ترقۍ کولو خواهش لري. دوي د امن، جمهوریت او وفاقیت په حق کښې ووټ ورکړے دے.

زما ملګرو! زۀ د دې معزز ایوان په ذریعه د دې وطن او په خاصه توګه د دې صوبې اولس ته دا یقین ورکوم چې امن او سلامتي زمونږ په ایجنډه کښې په وړومبي سر کښې دي.

**امن او سلامتي:** زمونږ د صوبې او فاټا خلق چې د تشدد، انتها پسندۍ او عسکریت پسندۍ د کومو مسئلو سره مخ دي دا د ماضي د ناقصو سیاسي پالیسو نتیجه ده. بنیادي طور دا مسئله د سیاسي نوعیت ده او سیکورټي د دې یو اهم اړخ دے. مونږ دا یقین لرو چې زمونږ امن او سلامتي چې دکومو پیچیده مسئلو او چېلنجونو سره مخ ده، د دې شدت د تېرو کلونو د ناقصو پالیسو په وجه مسلسل زیات شوے دے او د دې څۀ عسکري حل موجود نۀ دے. دغه وجه ده چې مونږ د دې مسئلو د هوارولو دپاره سیاسي لاره لټوو. دا مسئلې په سیاسي مذاکراتو د ختمولو چې زمونږ کوم موقف دے، عوام د هغې پوره ملګري دي او مونږه د هغه ټولو وعدو د پوره کولو په سلسله کښې پرعزم یُو کومې چې مونږ د خلقو سره کړې دي.

په دې خبره مونږ ډېر خوشحاله یُو چې د عسکریت پسندۍ مسئله په سیاسي مذاکراتو د هوارولو په تجویز یوه عمومي اتفاق رائې موجوده ده. په دې نکته صرف سیاسي جماعتونه نۀ بلکې ټولې ریاستي ادارې هم متفقې دي. د دې نه علاوه په دې حواله مونږ ته د خفه شوو عناصرو نه هم معتبرې اشارې شوې دي چې هغوي هم د مذاکراتو عمل کښې مرسته کولے شي.

زمونږ دا اراده ډېره مضبوطه ده چې ټولې متعلقه حلقې او عناصر دې د ځان سره کړو او د مذاکراتو په ذریعه دې د دې مسئلې حل راوباسو خو مونږ چا ته د دروغو امېدونه او توقعات ورکول نۀ غواړو. مونږ ټول ښۀ خبر یُو چې په مقامي، علاقائي او بین الاقوامي سطح مختلف قسم ایجنډې لرونکي انحراف پسند عناصر موجود دي، کوم چې دا ټوله سلسله په خطره کښې اچولے شي. مونږ هېچا ته دا اجازت نۀ ورکوو چې د پښتنو سیمه یرغمال کړي. خدائے ذوالجلال چې په خپل کلام پاک کښې د "صلحې" د کومې لارې هدایت کړے دے، مونږ به هغه خپلوو او د پښتونولۍ چې کومه لار ده په هغې به ځو. د الله تعالیٰ نه لاس په دعا یُو چې مونږ ته په ټیک لاره د تلو، د مذاکراتو د طریقه کار جوړولو، د متعلقه حلقو او عناصرو د تعین کولو او په خبرخبریت د مذاکراتو جوړولو توفیق راکړي. آمین

صوبائي حکومت به د مشرانو او د معاشرې د مختلفو طبقو نمائندګي کوونکي خلقو د یوې جرګې اعلان کوي، د صوبائي اسمبلۍ په راروان اجلاس کښې به مونږ د خپلې صوبې او فاټا دپاره کُوټلې امن منصوبه وړاندې کوو. د فاټا په حواله به مونږ د وفاقي

حکومت نه هم پوره پوره مرسته غواړو، ځکه چې په فاټا کښې د امن نه بغیر به زمونږ صوبه کښې د امن راتلل ممکن نۀ وي.

**پولیس اصلاحات:** مونږ د پوره فکرمندۍ سره د دې خبرې ادراک لرو چې د تاوان دپاره د اغوا، غلا، ډاکو او شوکو په وارداتو کښې د خطرناک حده پوره اضافه شوې ده. د جرمونو په شرح کښې زیاتوالے او عسکریت پسندۍ په صوبه کښې یو بحراني کېفیت پېدا کړے دے. صوبائي حکومت د هر او سېدونکي د ژوند، جائیداد او نورو اثاثو د تحفظ کلکه اراده لري. زمونږ حکومت به د پولیس او فرنټیر کانسټیبلرۍ د مستحکم کولو او مضبوطولو سمدستي اقدامات کوي.

- زمونږ منصوبه ده چې په پولیس فورس کښې په اندروني توګه په اووۀ نیم زره (۷۵۰۰) اهلکارو مشتمل یو Elite Force جوړ کړو. په دې ایلیټ فورس به یو Crash Course کولے شي او جدید ترینه درنه وسله به هم ورکولے شي. دا وخت چې د ایف سي کوم ۳۴ پلاټونونه د صوبې نه بهر تعینات دي، دا به هم مونږ واپس راغواړو.
- د صوبې د پولیس او ایف سي په یو شریک کمان هم مونږ غور کوو. د دې مقصد دا دے چې ایف سي په مختصر نوټس په حرکت کښې راوستلے شي. د پولیس او ایف سي په استعداد کښې به مونږ تر دې حده د اضافې کولو کوشش کوو چې دوي هغه علاقو ته هم د فوځ په ځائے ولېږلے شي چرته چې دوي اوس اوس د باغیانه هلو ځلو د مخنیوي دپاره مقرر کړې شوي وو. فوځ به واپس چاوڼو ته راشي او د امن او امان د قیام او بقاء ذمه واري به د پولیس او ایف سي وي.
- صوبائي حکومت به په صوبه کښې د ریاستي عملدارۍ او دامن و امان د راوستلو هر ممکن کوشش کوي. مونږ د دې وطن د سلامتیا، استحکام او خودمختارۍ د ساتنې دپاره کلکې ارادې لرو. زمونږ د پولیس د ځوانانو او افسرانو د عظیم الشانو قربانو په وجه حکومت د دوي په Pay scales د نظر ثانۍ دپاره سمدستي د یوې کمېټۍ د تقررۍ فېصله کړې ده.
- د فورس د ټولو ممبرانو دپاره د صحت او لائف انشورنس یوه داسې جامع منصوبه به هم مونږ متعارف کړو چې دوي ته به په کښې هېڅ پریمیم ادا کول نۀ وي.
- د شهیدانو لواحقینو ته به پلاټونه او نورې اسانۍ ورکولے شي چې دوي یوه با وقاره زندګي تېره کړي.
- یو پر امن ماحول د اقتصادي او سماجي ترقۍ دپاره ورومبنے شرط دے. زمونږ صوبه د انساني او قدرتي وسائلو نه مالامال ده خو د ډېرو اقتصادي او سماجي اشاریو ترمخه د دې شمېر د وطن په پسمانده ترینو سیمو کښې کولے شي. دې صورت حال کښې د بدلون راوستلو مونږ کلکه اراده لرو.

**په کلیز ترقیاتي پروګرام کښې د ۱۰ بلین روپو کمے راوستل:** د اقتصادي ترقۍ په حواله د خپل ارمان د ذکر کولو نه اول زۀ یو ډېره اهمه مسئله رابرسېره کول غواړم. په دې سلسله کښې ماته د دې معزز ایوان د ټولو غړو مرسته پکار ده. وفاقي حکومت زمونږ د صوبې بجټ کښې ۴۵ فیصده کمے راوستے دے، مونږ وفاق ته درخواست کوو چې په دې نظر ثاني وکړي. وفاقي حکومت له پکار دي چې په دې معامله کښې مونږ د بلوچستان برابر وګڼي چې هغوي دپاره داسې څۀ کمے نشته. زمونږ حکومت د مرکزي حکومت په وړاندې دا مسئله راوچته کړې ده او انشاءالله زمونږ کوشش به وي چې د خپل کلیز ترقیاتي پروګرام دپاره د ډېر نه ډېر رقم حاصل کړو. په صوبه کښې د سیکورټي د موجوده صورت حال په وجه دامعامله د اضافي اهمیت وړ ده. انفراسټرکچر بدحالي، د خدماتو او اسانیو په ورکولو کښې ځنډ او

د امروزه ژوند په خرچونو کښې د زیاتوالي په وجه زمونږ اولس د بې شمېره تکلیفونو نه راتېر شوے دے. د دې صورتحال ازاله او کفاره پکار ده. یوه طریقه د دې دا کېدے شي چې پبلک سیکټر ته زیات نه زیات وسائل ورکړے شي. زمونږ په صوبه کښې چې د امن و امان په حواله مونږ د کوم غېر معمولي صورتحال سره مخ یُو د دې په بنیاد وفاقي حکومت له پکار دي چې زمونږ په مسئلو په همدردۍ سره غور وکړي. تېرو څو کلونو کښې زمونږ صوبې ډېرې بربادۍ لیدلې دي. ډېر سکولونه، پُلونه د صحت سره متعلقه ادارې، د پولیسو تانې او نور سرکاري عمارتونه او دفترونه دې اړې ګړې کښې تباه شوي دي. د وفاقي حکومت او د ترقیاتي عمل نورو شریکوالو ته زمونږ ګزارش دےچې د دې ټولو ادارو او اسانیو په تعمیر او تنظیم کښې زمونږ مرسته وکړي.

**محصولات:** په سیاسي سطح د اوبو نه د پېدا کېدونکې بجلۍ په حواله د خپلې رائلټۍ د بقایاجاتو د ادائیګۍ مسئله مونږ د وړاندې نه راوچته کړې ده او د دې د مثبو نتائجو په سلسله کښې مونږ پُرامېده یو.

- د تېل او ګېس د ذخیرو په حواله هم د رائلټۍ د حصول دپاره مونږ د مذاکراتو اراده لرو چې په صوبه کښې او په خاص توګه د کوهاټ او کرک د ضلعو دپاره مونږ ته ډېره سرمایه په ګوتو راشي.
- مونږ به کوشش کوو چې وفاقي حکومت د خبرو اترو په ذریعه قائل کړو چې د سوئي سدرن او سوئي نادرن په طرز د "ګرګري نارتهه ویسټرن" په نوم یوه ګېس کمپني جوړه کړي چې صدر مرکز ئې زمونږ په صوبه کښې وي.
- د ټول ملک د تماکو د مجموعي پېداوار ۷۲ فیصده برخه زمونږ په صوبه کښې کېږي زمونږ کوشش به وي چې په تماکو د ایکسائز او سېلز ټېکس کښې خپله برخه ترلاسه کړو.
- د بهرنۍ سرمایه کارۍ دپاره به مونږ سازګاره فضا جوړوو او پوره پوره تحفظ به ورکوو. د خپل حکومت د وړومبو سلو ورځو په دوران کښې به مونږ د سرمایه کارۍ کانفرنس هم جوړوو.

**صنعت:** تر څو چې د صنعتي څانګې تعلق دے نو د غوړو، سیمنټو او سګرېټو په پېداوار کښې بالترتیب ۲۳، ۲۰ او ۳۰ فیصد برخه زمونږ د صوبې نه ځي.

- مونږ به د خپلو صنعتي بنیادونو د تعمیر او ترقۍ کوشش کوو.
- په فاټا او نورو برخو کښې د (ROZ) Rehabilitation and Opportunity Zone د قیام تجویز یو خوش آئنده خبره ده ځکه چې د دې نه به په صوبه کښې د انډسټریلائزېشن د یو نوي دور آغاز وشي.
- د پرېوتو او ولاړو صنعتونو د دوباره روانولو دپاره به مونږ د یو پېکج اعلان کوو، د کومې سره چې به د نوکرو مواقع سېوا شي.

**د هنر او (Skill Development) استعداد خلا:** د دې دپاره د مطلوبه انفراسټرکچر د ورکولو نه علاوه مونږ ته په لویه پیمانه خپلو ځلمو ته سمدستي د Vocational او Technical تربیت ورکولو ضرورت دے.

- صوبائي حکومت د صوبې په هره ضلع کښې د ووکېشنل ټرېننګ او رجسټرېشن مرکزونو د جوړولو فېصله کړې ده. ووکېشنل ټرېننګ او په نورو هنرونو کښې د خپل استعداد ښکاره کولو خواهش لرونکي ځوانان به دې ذکر شوي مرکزونو کښې خپل رجسټرېشن کوي او د خپلو رجحاناتو جاج به هم اخلي چې د وطن د کار د خلقو په حېثیت په عملي زندګۍ کښې قدم کېږدي.

○ په دې سلسله کښې مونږ ته د FATA DA او NWFDEC مرسته هم پکار ده او مونږ ته به د نجي شعبې هم د ځان سره د ساتلو ضرورت وي.

○ د زرګونو په شمېر کښې به نۀ صرف زمونږ ځوانان ووکېشنل ټرېننګ حاصل کړي بلکې دوي ته به مياشتنۍ وظيفې هم ترلاسه کېږي.

○ صوبائي حکومت د دې خبرې نه خبر دے او په دې حواله فکر مند هم دے چې د مزدورکاره طبقې سره تعلق لرونکي خلق، کومو ته چې د خپلو کورنيو دپاره د دوه وخته ډوډۍ د بندوبست دپاره د نورو ښارونو سفرکول وي، هغوي د غربت او د اوسېدلو د ارزانو اسانيو د نشت د وجې په زمکو او فټ پاتونو اوده کېږي. د نورو انسان دوسته خلقو او ادارو په مرسته به حکومت په هره ضلع کښې سرائې جوړوي چې په دياړۍ کار کوونکو مزدورانو ته په ژوند بنيادي اسانۍ په کم خرچ ترلاسه شي.

**تعليم :** د خپل حکومتي ميعاد په دوران کښې به زمونږ کوشش وي چې د کوم ماشوم هم د سکول تلو عمر دے، هغۀ ته به سکول کښې د داخلې موقع ميلاؤ شي. حکومت د سيکنډري د سطحې پورې ټولو ماشومانو ته د مفت او معياري تعليم ورکولو اراده لري.

○ حکومت به په ماهرينو مشتمله يوه کمېټي مقرروي کوم چې به د پرائمري سطحې پورې په مورنۍ ژبه کښې د تعليم ورکولو په حواله خپل سفارشات وړاندې کوي.

○ په تعليمي نصاب د نظر ثانۍ نه پس به مونږ د استاذانو په تربيت توجه ورکوو چې معياري تعليم ورکول ممکن شي.

○ د استاذانو او په خاص توګه په لرو پرتو او سختو علاقو کښې د مقررې عملې په تنخواګانو او نورو مراعاتو به هم نظرثاني کولے شي.

○ صحت او لائف انشورنس به استاذانو ته د څۀ اضافي خرچ نه بغېر ورکولے شي د دې نه علاوه په لرو او سختو علاقو کښې مقررو استاذانو او په خصوصي توګه زنانه عملې ته به د سفر او اوسېدو اسانۍ ورکولے شي.

○ د سرکاري استاذانو دپاره په مناسب قيمتونو د رهائشي سکيمونو په ورکولو هم حکومت غور کوي.

○ د ځوانانو د تکنيکي تربيت په حواله په ديني مدرسو کښې سبق ويونکي ماشومان هم زمونږ د معاشرې يوه اهمه برخه ده. دوي ته د روښانه مستقبل ورکولو په سلسله کښې به مونږ تر ممکنه حده هر ګام وچتوو.

○ صوبائي حکومت په دې خبره هم فکر مند دے چې په سړکونو او لاروکوڅو کښې د ناچاره ماشومانو شمېر سېوا شوے دے په دې سلسله کښې به حکومت د انسان دوسته خلقو او ادارو په مرسته د SOS Villages په طرز د دې ماشومانو د رهائش وغېره بندوبست کوي ځکه چې دا ماشومان زمونږ آئنده نسلونه دي.

**صحت :** د صحت شعبه به د صوبائي حکومت د ترجيحي حېثيت ولري.

○ د موجوده انفراسټرکچر د ښۀ کولو سره سره به مونږ په پوره صوبه کښې د صحت د اسانيو د يو جديد نېټ ورک جوړولو باندې هم کار کوو.

○ په پېښور کښې به يو Burn Center جوړولے شي ځکه چې اوس رنځورانو ته د متعلقه علاج دپاره د صوبې نه بهر تلل وي، وروستو به په نورو ښارونو کښې هم دا اسانۍ ورکولے شي.

○ د صوبې په ځنو برخو کښې به د Rescue 122 سروس د پائلټ پراجيکټ په توګه متعارف کولے شي. دې ته به ايمبولنس، وائرليس سسټم او نور مطلوبه

میډیکل سټاف ورکولے شي چې د ایمرجنسي په صورت کښې دوي په وخت کارروائي وکړے شي.

○ صوبائي حکومت به د نرسانو د تربیت دپاره نوي مرکزونه جوړوي ځکه چې دا وخت د عالمي معیار له لحاظه زمونږ په هسپتالونو کښې د نرسانو تعداد ډېر کم دے. نجي میډیکل کالجونو ته به د نرسنګ انسټي ټیوټ د جوړولو هدایت وکړے شي.

○ په ټولو هسپتالونو او د صحت په بنیادي مرکزونو کښې په مطلوبه شمېر کښې دعملې د مقررولو دپاره به د پېرامیډیکل سټاف شمېر او د استعداد معیار سموا کولے شي.

○ د صوبې په ټولو اهمو مرکزونو کښې به فاؤنټېن هاؤسز Mental Asylums جوړولے شي.

○ دا وخت په ضلعي هېډکواټرز کښې صرف اووۀ هسپتالونه د A کټېګرۍ ښودلي شوي دي، صوبائي حکومت به د ټولو ضلعو هیډکواټرز هسپتالونه د A کټېګرۍ پورې اپ ګرېډ کوي.

**د مقامي حکومتونو نظام:** د تېرو څو کلونو تجربو د مقامي حکومتونو د موجوده نظام نقصونه پوره راښکاره کړي دي.

○ په دې نظام د نظر ثانۍ نه پس به د دې اصلاح او ښۀ والي دپاره اهم تجویزونه تیارولے شي. د موجوده نظام سختې خامۍ د امن و امان د دې اوسني خراب صورت حال اهمه وجه ده. د بلدیاتو د وزیر په مشرۍ کښې به یوه کمېټي جوړولے شي کومه چې به د دې نظام د اصلاح په حواله په شپېتو ورځو کښې د خپل رپورټ وړاندې کولو پابنده وي.

**زراعت او لائیو سټاک:** د صوبې د جي ډي پي پنځویشت (۲۵) فیصده برخه په زراعت اړه لري. ۴۷ فیصده صوبائي لیبرفورس د دې شعبې سره وابسته دے. دې شعبې ته په ترقۍ ورکولو کښې به مونږ خپلو کرونده ګرو سره هر ممکن مدد کوو. په دې شعبه کښې زمونږ صوبې ته څو بنیادي خواص حاصل دي چې فائده وچتول ترې ډېر ضروري دي.

○ د مثال په توګه په ملک کښې د جوارو د مجموعي پېداوار ۵۰ فیصده د تماکو د مجموعي پېداوار ۷۲ فیصده او د ښاروو د مجموعي پېداوار ۱،۱۶ فیصده زمونږ د صوبې نه ځي. دا په دې شعبه کښې زمونږ بنیادي خواص دي خو په دې درېواړو سطحو کښې د سرمایه کارۍ شرح د صوبې په جي ډي پي کښې د دې د ټولې برخې سره مطابقت نۀ لري.

○ د زرعي قرضو شرائط د کرونده ګرو دپاره نور هم نرمولو په غرض به په دې نظر ثاني کېږي.

○ د کومو کرونده ګرو د ګني فصلونه چې تېرو څو میاشتو کښې د سختې یخنۍ نه متاثره شوي دي، د هغوي دپاره به د خصوصي پېکج اعلان کولے شي.



○ په لائیوسټاک کښې د اضافي راوستلو د امکاناتو نه به پوره پوره استفاده کولے شي. زمونږ په صوبه کښې د څر دپاره ۱،۲ ملین هیکټېر رقبه موجوده ده. زمونږ حکومت به د لائیوسټاک سره متعلقه پراجیکټس کښې د سرمایه کارۍ دپاره د Incentives اعلان کوي.

○ د لائیوسټاک او پولټري فارمز په سلسله کښې به د هزاره ډویژن د استعداد نه په خصوصي توګه استفاده کولے شي.

**د څښلو صفا اوبهٔ:** نن مونږ په یوویشتمه صدۍ کښې ژوند کوو خو زمونږ په لکونو خلق اوس هم د څښلو د صفا اوبو نه محرومه دي.

○ د صوبې په جنوبي ضلعو کښې دا مسئله خصوصاً ډیره سخته ده. د خپل حکومت په وړومبنو سلو ورځو کښې به مونږ په دې سلسله کښې د متعلقه منصوبو تفصیلات وړاندې کوو.

○ صوبائي حکومت به د څښلو د صفا اوبو د ورکولو یقیني کولو دپاره ضلعو ته فلټرنګ پلانټس ورکوي.

**اوبهٔ خور:** مونږ به د کرم تنګي ډیم، ګومل زام ډیم او چشمه لیفټ بینک کېنال په منصوبو عمل درامد کوو. د دې منصوبې د تکمیل نه پس به اوؤ لکه ایکړه زمکه په Irrigational network کښې وي. د دې سره به نهٔ یوائې دا چې د صوبې د جنوبي ضلعو سماجي او سیاسي کړهٔ وړهٔ بدلیږي بلکې په صوبه کښې به د غنمو د کمي مسئله هم حل شي.

○ په صوبه کښې د نهرونو پخولو دپاره به مونږ د یو جامع پروګرام اغاز کوو. د دې سره به د اوبو بچت هم وشي او د اوبهٔ خور نظام به هم ښهٔ شي.

**د اوبو نه د بجلۍ پېداوار:** د بجلۍ په شعبه کښې زمونږ صوبه ډیر مثبت خصوصیات لري. د مثال په توګه چې د اوبو نه د بجلۍ د پېداوار د ممکنه وسائلو په توګه چې کوم ځایونه په ګوته کړے شوي دي. په دې کښې د نیمې نه زیات زمونږ په صوبه کښې دي.

○ په ۱۹۵۵ کښې د ون یونټ د جوړېدو نه مخکښې بجلي یوه صوبائي شعبه وه ځکه نو د ون یونټ د ختمېدو نه پس په دې د وفاقي حکومت د کنټرول څهٔ جواز نهٔ پاتې کېږي، مناسبه به دا وي چې د دې شعبې اختیار صوبو ته واپس ورکړے شي.

○ په ټول ملک کښې د MW ۱۵،۶۳۳ مجوزه پراجیکټس نه د MW ۳۶۹،۵ کیپسټي اووهٔ پراجیکټس زمونږ په صوبه کښې شروع کېدے شي.

**اربن پلاننګ او ډویلپمنټ:** د صوبې څلېریشت ضلعي هېډکواټرز او ۶۱ تحصیل هېډکواټرز اربن علاقې ګرځولے شي. د دې نه علاوه هم څهٔ شپېتهٔ یا اویا علاقې داسې دي کومې چې د ښاري یا اربن علاقو په تعریف پوره خېژي. د دې مطلب دا دے چې د صوبې ابادي په تېزۍ سره ښاري علاقو ته راروانه ده یا بیا د پېداواراو ترقۍ د اضافې په وجه زیاتې علاقې په ښارونو کښې بدلیږي.

○ دا رجحان د مناسبه اربن پلاننګ او منېجمنټ غوښتنه کوي. د تېر حکومت د ناکامۍ یوه لویه وجه دا هم وه چې دوي لویو ښاري مرکزونو او په خصوصي توګه پېښور ته هېڅ توجه نهٔ وه ورکړې.

○ په پېښور کښې مونږ ته د اضافي انفراسټرکچر د تعمیر ضرورت دے کوم چې به د موجوده انفراسټرکچر بوج کم کړے شي ځکه چې موجوده انفراسټرکچر تباهۍ ته نزدې دے.

○ زمونږ تجویز دا دے چې CDMDD په جدیدو طریقو د نوي سر نه منظمه کړے شي د مثال په توګه ټریفک انجنیئرنګ ونګ او ویسټ ډسپوزل یونټس متعارف کېدے شي.

○ د صوبې په مختلفو علاقو کښې قائم هاؤسنګ اتهارټیز دنوي سر نه متحرک کېدے شي. په دې کښې ځنو لکه KDA، شېخ ملتون او حیات اباد ټاؤن ډیر کامیاب شوي دي.

○ په دې شعبه کښې د ګنجائش پېش نظر د صوبې په نورو برخو کښې د ذکر شویو مثالونو اعاده کېدے شي.

**زنانه:** زمونږ حکومت د تعلیم، روزګار او فېصله سازۍ په عمل کښې زنانوؤ ته یو شان موقعې ورکول غواړي.

○ مونږ به د جينکو دپاره سکولونه جوړوو او حفاظت به ئې هم کوو.

○ مونږ به دا خبره يقيني کوو چې د موجوده کوټې مطابق په بيوروکريسي کښې زنانه هم مقررې شي.

○ مونږ به يو Provincial Commission on the Status of Women جوړوو کوم چې National Commission on the status of Women سره په شريکه کار کوي او د ښځو خلاف د امتيازي قوانينو نشاندهي به کوي. په موجوده قوانينو کښې بدلون او د ښځو خلاف د بيلابيل قسمه تشدد جائزې او نګرانۍ په حواله به خپل سفارشات وړاندې کوي.



○ مونږ ته پته ده چې د ترقۍ د اشاريو په لحاظ زمونږ د صوبې زنانه ډېرې وروستو دي. په دې حواله به زمونږ حکومت د ښځو د ترقۍ د محکمې سره پوره پوره مرسته کوي چې د دې فرق د ختمولو دپاره مؤثره ګامونه اوچت کړے شي.

○ د هرې محکمې د پاليسو او منصوبو تجزيه به د صنفي برابرۍ په حواله کولے شي.

○ د ښځو دپاره د تکنيکي تربيت او د وړوکي يا مينځي سائز د کاروبار شروع کولو به حکومت اهتمام کوي.

○ د زنانه سرمايه کارانو د ضرورتونو دپاره به مناسب کريډټ سکيمونه متعارف کولے شي.

**ماحوليات:** ماحولياتي ابترې يوه داسې مسئله ده کومه چې نۀ صرف دا چې د عسکريت پسندو د مسئلې سره برابرې کوي بلکې دا په مجموعي توګه د يو قام په حېث زمونږ جرړې هم ويستے شي. د دې مسئلې بدترين اړخ دا دے چې د دې د سنګين ترينو نتائجو په حواله زمونږ د خلقو اګاهي هم ډېره محدوده ده.

○ په دې سلسله کښې به زمونږ وړومبۍ ترجيح دا وي چې د ماحولياتو د مسئلو نه د اګاهۍ په غرض په لويه پيمانه د مستقل نوعيت د يو مهم اهتمام وکړو.

○ په خپلو وړومبنو سلو ورځو کښې به مونږ په صوبه کښې د پائيدارې ترقۍ او د خپل قدرتي ماحول د تحفظ دپاره يوه کوټلې پاليسي جوړوو. په دې عمل کښې به ټولې متعلقه ادارې او سول سوسائټي هم شاملولے شي.

**ثقافت:** زمونږ صوبه د عظيم الشان ثقافت وارثه ده خو د بدقسمتۍ نه د تېرې څۀ مودې نه زمونږ ثقافت د تشدد په ولقه کښې دے. صوبائي حکومت به د دې ثقافتي ورثې د احياء او ترقۍ دپاره خپل ټول وسائل په کار راولي.

○ د صحت مندانه ثقافتي هلو ځلو دپاره به نشترهال پرانستے شي. د قانون مطابق به حکومت په فحاشۍ او عريانۍ موثره کنټرول ساتي.

○ د فنکارانو د مسئلو نه د خبرېدو دپاره د دوي سره د رابطې دپاره به يو باقاعده نظام جوړولے شي چې د دوي مسئلې د دوي د تجويزونو په رڼا کښې هوارې کړے شي.

○ د تېر حکومت د ناقصې پاليسۍ په وجه چې کوم فنکاران د خپلو علاقو نه لرې کړے شوي دي د

دوي د Rehabilitation دپاره به مونږ د يو خصوصي پېکج اعلان کوو.

○ د تحقيق او خپروني په څانګو کښې به صوبائي حکومت د پښتو د ترقۍ دپاره پوره پوره ګامونه اخلي.

○ زمونږ حکومت د صوبې د ثقافتي تنوع احترام کوي او د هندکو، کهوار او دلته چې نورې کومې ژبې وئيلے شي د هغې د ترقۍ دپاره به هم کار کوي.

**مېډيا:** صوبائي حکومت د مېډيا د ازادۍ احترام کوي او دې ته به تحفظ ورکوي.

○ د ورکنګ جرنلسټانو دپاره د حالات کار او معاوضې د ښۀ کولو په حواله به حکومت د دوي پوره مرسته کوي.

○ په اخبارونو او رسالو د اشتهارونو د تقسيم پاليسي به په انصاف اړه لري.

**جېل خانه جات:** د جېلونو نه به د اصلاح کورونه جوړولے شي او دقيانوسي او مېنلو شوو قاعدو او ضابطو کښې به بدلون کولے شي د دې به د جديدو تصوراتو سره د هم اهنګ کولو کوشش کولے شي.

○ په جېلونو کښې به د خوراک څښاک د معيار او د دې په قسمونو کښې اضافه کولے شي.

○ Criminal justice کښې د ښۀ والي راوستو دپاره به وکيلانو، دانشورانو، سول سوسائټۍ او د معاشرې د ټولو طبقو سره تعلق لرونکو خلقو ته خواست کولے شي چې خپل سفارشات په دې حواله وړاندې کړي.

○ بنو، هري پور او پېښور کښې به د کم عمره قېديانو دپاره Borstal institutes قائمولے شي چرته چې به دوي ته ذهني، اخلاقي او نفسياتي تربيت ورکولے شي چې دوي د معاشرې ښۀ غړي جوړ شي.

○ په جېلونو کښې به د ننه واړۀ صنعتونه قائمولے شي او په دې کښې کارکوونکو قېديانو له به مناسبه معاوضه ورکولے شي.

○ د جېل خانه جاتو د قوانينو مطابق زۀ نن د صوبې په ټولو جېلونو کښې د بندي قېديانو په سزا کښې د شپېتو ورځو د کمي اعلان کوم.

**د مانېټرنګ د نظام استحکام:**
په هره سطح د اهلکارو د موجودګۍ باوجود په صوبائي محکمو کښې د مانېټرنګ نظام ډېر کمزورے دے. د دې دپاره سمدستي يوه مناسبه طريقه جوړول پکار دي او موجوده طريقې نورې مستحکم کول غواړي.

○ د متعلقه محکمو سيکرټريان دې په مياشتني بنيادونو کابينه د مختلفو اشاريو، مثلاً د تعليم په شعبه کښې د حاضرۍ شرح، په امتحانونو کښې دکاميابېدونکو طالب علمانو شرح، د مختلفو افسرانو د دورو شرح او د استاذانو د غېر حاضريو شرح وغېره په دې لحاظ دې دوي د متعلقه محکمو په حلقه د بريفنګ ورکولو پابند کړے شي.

○ دلته دا خبره د ذکر وړ ده چې د داسې اشاريو او مانېټرنګ د کار طريقې کم نه کم په دستاويزي توګه موجودې دي. ددې په حواله د Follow ups او بيا د دې په عمل درامد د توجه ورکولو ضرورت دے ځکه چې د کاميابۍ اصل کنجي دا ده.



د راروانو مياشتو او کلونو په حواله دا زمونږ د صوبائي حکومت د ارادو او عزائمو يوه مختصره خاکه وه. دلته چې ما کومې خبرې

بیان کړې په دې سلسله کښې د دې معزز ایوان د غړو
او عوامو لـه طرفـه بـه زۀ تجویزونـو تـه هـر کلے وایـم.
زمونږ انحصار دې همېشه په اجتماعي دانش وي ځکه
چې د کومو مسئلو او چېلنجونو سره مونږ مخ یو د دې
حل کول د یو ګوند ، د یو اتحاد یا د یوې ادارې کـار نۀ
دے، د دې دپـاره د ټـول قـوم د شـریکو کوششـونو
ضرورت دے.
زمونږ صوبائي حکومت به همېشه د عوامو خادم وي.
ومن الله توفیق